## افغانستان ـــ تاجکستان ـــ پاکستان

## دسرحدی اوبو ورکشاپ

## له لېرې واټن څخه د زده کړې شپاړسم ماډيول

### ۱۷. د اوبو په باره کی د کاري ظرفيت لوړول

**د کاري ظرفيت خورا ډېر ښه لوړوالی او د اوبو په مسآلوکي ټرنينګ دی.**

- کاري ظرفيت په دقيقه توګه تعريف کړئ، چې کاري ظرفيت څه ته وايي ( په وظيفه کي تربيت، لابراتواري کار، په پوهنتون کې ښوونه او روزنه، ښوونه او روزنه د سمون لپاره او داسې نور...)
- د محلي کارکوونکو تکنيشنانو او ساينس دانانو کاري ظرفيت لوړکړئ، چې و کولاې شي په هېواد کې د اوبو د منابعو څارنه ارزونه او مديريت وکولای شي .
- له لېري واټن څخه د زده کړې له هغو ماډيولونو څخه ګټه واخلئ چې د نبراسکا پوهنتون چې په اوماها کې دی (university of Nebraska at Omaha ) ( UNO ) د افغانستان د مطالعاتو د مرکز په واسطه د هغې ارزونې لپاره چې موخه يې اصلاح او پلټنه وي تهيه شوي دي، چې د اوبو په باره کې نوي شيان زده کړي او په دې پوه شي چې څه شي ته اړتيا ده .
- کله چې د اوبو له زياتو اړخونو سره مخامخ کيږي، د نويو ساحو په باره کې فکر وکړئ، چې موږ له لېرې واټن څخه د زده کړې قوي ماډيولونه ترتيب کړو، چې زياتو پوښتنو ته ځواب ووايي.
- نور ټريننګونه تجهيزات او وسايل برابر کړو. په دې شرط چې د هغې لپاره بودجه موجوده وي.
- موجوده موسسې تقويه کړو (دفترونه ، لابراتوارونه ، درسي خونې ، په ساحه کې کار او داسې نور).
- دهېواد په کچه د اوبو د کيفيت لابراتوار جوړ کړو.
- د هېواد په کچه د اوبو د منابعو ډاټابېس جوړکړو.
- سره له دې چې د مشارکت لپاره اعتماد او باور رامنځته کول به وخت وغواړي، خو دا خبره ضروري ده او په لوړه سويه سياسي ملاتړ غواړي.
- خلک راځي او ځي خو سيتسم پاتې کيږي.
- پروسه له توليد څخه مخکي رامنځته کړئ .
- د تمويل کوونکو نرمښت او د اوږدي مودې ژمنه مرسته کوي.
- د تمويل کوونکوهمغږئ ته اړتيا ده، چې د محلي کار کوونکو او بهرنيو مرستندوی کار کوونکو ترمنځ معاشونه متوازن کړي.
- پراګماټيک او بنسټيزه حل لاره غوره کړئ.

- جندېرهم د بشري منابعو یوه مساله ده .
- ملت جوړونه باید په مناسب ډول پرمخ لاړه شي او په غیر ایډیالوژیکی ښوونه او روزنه ولاړه وي .
- پلانونه دهیلو او په ځان باندې د باور اظهار دی، چې تاسي ته د یوه کار د سرته رسولو توان در بخښني .
- دکاري ظرفیت په لوړولو کې ملي پرمختیایي هدفونه لاسته راوړل دوامداره مالي ملاتړغواړي.
- هغه اړتیاوي پیداکړئ چې سمون غواړي او په دی فکروکړئ چې کاري ظرفیت به څرنګه لوړوو او دا خبره په ګوته کړئ ، چې چیرته د کاري ظرفیت لوړولوته اړتیا ده.
- څوک زیاتې ښووني او روزني ته اړتیا لري او څرنګه به زیاته ښوونه او روزنه سرته ورسیږي، پرته له دې چې اندیښني ورپیښي شي هر یوه ته باید لږ څه زیات درس ورکړل شي یا وروزل شي.
- په ګوته کړئ چې خلک به څه شي و هڅوي چې خپل کاري ظرفیت لوړکړي په خصوصي ډول ورڅخه دغه خبره وپوښتي .
- د اوبو په ټاکلي ساحه کې د مرستي غوښتنه وکړئ په تیره بیا په هغه ځای کې چې تاسي مطمئن نه یاست چې څه شی ته تاسي اړتیا لرئ .

۱،۱۶ جدول : په افغانستان کې د کاري ظرفیت د لوړولو او پالیسی په باره کې وړاندیزونه ( Attar Holland 2010).

1. په لنډه توګه بیان کړئ ظرفیت څه ته وایي .
2. پلان جوړ کړئ او د کاري ظرفیت لوړول په پروګرام کې شامل کړئ .
3. ظرفیت ته له ابزاري وسیلي څخه اخواته وګورئ .
4. د ظرفیت د لوړولو اغېزمن موډلونو ته پراختیا ورکړئ .
5. په یوه پیچلي سازمان کې مالکیت په مساوي ډول وویشئ .
6. د ظرفیت د عناصرو د متقابل عمل د څرنګوالي څارنه و کړئ .

**له لیرې واټن څخه د زده کړې شپاړسم مادیول پوښتنی (دلته کلیک وکړی)**